مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۲/۱۰

# ګیله مکړه!

**څوک چې ناست وی د هغو نه څه ګیله کړی؟**
**خپله نه ځـي ، زولنـو نه څه ګیله کـړی؟**

**چې دی ګل کانــدی سوری ټـټر په پانـو**
**نو له څـوکـو د اغـزو نه څه ګیله کړی؟**

**یوه ورځ چې روح دی خپل در نه بیلیږی**
**بیـا له خپلو او پردو نه څه ګـیلـه کـړی؟**

**ته چې پلاریې او په ورانو لارو سریې**
**پلاره! بیـا دی له بچو نه څه ګـیلـه کړی؟**

**چې هواره لارکې لویږی سردی مات دی**
**له دی غرو او ګرنګو نه څه ګـیلـه کـړی؟**

**چې په خپل قدر پـخپله نه پوهـیږی**
**مشـره! هسی پښـتنو نه څه ګیله کړی؟**

**ته چې نن هم خـوراولـور په کانو وژنی**
**د وحشـت لـه زمـانـو نه څه ګیلـه کړی؟**

**په پیسو چې خرڅوی د مور زړوکی**
**نورله دی تورو ځیرو نه څه ګیله کړی؟**

**کلیـوالـه چې حیـا له درو ولاړه !!**
**ګیله مکړه! له ښارو نه څه ګیله کړی؟**

فبروری/۲۰۱۹/۶
ایجکس ـ تورنتو / کاناډا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ